Pashto

Information sheet 13 -
Workers and Volunteers
and the Reportable Conduct Scheme

# 13 شمېره معلوماتي پاڼه
# کارمندان او داوطلبان او د راپور وړ چلند طرحه

**هدف:**

د دې معلوماتي پاڼې هدف د کارمندانو او داوطلبانو (ستاسو) لپاره د هدف وړ چلند د طرحې په هکله د لارښوونو چمتو کول دي، په ځانګړې توګه کله چېرې د راپور وړ ادعا تاسو ته متوجه وي.

## د راپور وړ چلند په هکله:

د دې طرحې له مخې هغه کېږي د کارمندانو او داوطلبانو له خوا د ماشومانو د ځورونو او نه پاملرنې په تړاو د شوو ادعاګانو په هکله د سازمان په ځوابونو کې بهبود رامنځ ته شي. دا طرحه د ماشومانو د *هوساینې او خوندیتوب د 2005 کال قانون* په واسطه رامنځ ته شوې ده.

د دې طرحې په اساس، د سازمانونو مشران باید د ماشومانو او تنکیو ځوانانو کمیسیون ته د هغو تورونو په هکله خبر ورکړي چې د کارمندانو او داوطلبانو له خوا له ماشومانو سره د چلند په هکله ترسره شوي دي.

د کارمنداو او داوطلبانو په اړه د هر ډول تور په اړه راپور باید ورکړل شي حتی که چېرې:

- دوی د کار د یوې برخې په توګه له ماشومانو سره مستقیمه اړیکه ونلري.
- ترسره شوی چلند د کار په ساحه کې یا له کاره د باندې ترسره شوی وي.

د سازمانونو مشران باید د دغو تورونو په هکله پلټنه وکړي.

**دغه طرحه کې کوم کارمندان او داوطلبان په تر پوښښ لاندې نيول کېږي؟**

یاده طرحه د ټولو هغو کسانو لپاره د تطبیق وړ ده چې عمر یې له 18 کلونو لوړ وي او د هغه سازمان له خوا یې په دې طرحه کې تر پوښښ لاندې نیول شوی دی په دنده ګومارل شوی یا په کار کې دخیل شوي وي چې لاندې کسان پکې شام دي:

- هغه کسان چې په مستقیمه توګه د هغه سازمان په واسطه په کار کې شکیل شوی وي چې د دې طرحې تر پوښښ لاندې دی ترڅو خدمات وړاندې کړي، چې په دې کې دواطلب، قراردادي، دفتر لرونکي، مسئول چارواکي یا بل مقام شامل دی.
- پالونکي یا د خپلواني مراقب
- مذهبي رهبران، مذهبي مشران یا د مذهبي نهاد چارواکي

کمیسیون د پورته ذکر شوو خلکو د تشریح لپاره د کارمندانو او داوطلبانو له اصطلاحاتو څخه استفاده کوي.

که هغه سازمان چې تاسو د کارمند یا داوطلب په توګه کار ورسره کوئ د دې طرحې تر پوښښ لاندې وي، نو ستاسو چلند د دې طرحې تر پوښښ لاندې نیول کېږي.

د هغو سازمانانو په هکله چې د دې طرحې تر پوښښ لاندې نیول شوي کولای شئ ډېر معلومات [د کمیسیون په ویب پاڼه](#) کې وموميْ.

## د راپور وړ چلند څه ته وايي؟

د راپور وړ چلند پنځه ډوله دی:

1. جنسي تېری
2. ناوړه جنسي چلند
3. فزیکي تاوتریخوالی
4. داسې چلند چې ماشوم ته عاطفي او رواني زیان اړوي.
5. د ماشوم په هکله د پام وړ غفلت

جنسي تېری، ناوړه جنسي چلند، او فزیکي تاوتریخوالی د طرحې تر پوښښ لاندې دي که چېرې د ماشومانو پر وړاندې یا د یا د هغوی په حضور کې د یادو چلندونو ارتکاب ترسره شي.

ماشوم هغه چاته ویل کېږي چې عمر یې له 18 کلونو ټيټ وي.

د راپور وړ چلند له جرمي ارتکاب ډېر څه تر پوښښ لاندې نیسي.

## د کمیسیون رول څه دی؟

د کمیسیون رول په لاندې ډول دی:

- د مناسب او پر ځای ځواب د ترویج لپاره له هغه سازمان څخه ملاتړ کوي او لارښووني ورته چمتو کوي چې د راپور وړ تور لپاره باید ځواب ووايي.
- د راپور وړ تورونو پر وړاندې د سازمانونو له ځواب ویلو څخه په خپلواکه توګه څارنه او ارزونه ترسره کوي، او کله چې مناسبه وي، د ځوابونو د بهبود په موخه سپارښتنې کوي.
- په ځانګړو شرایطو کې، د عدلیې او د ټولنې خوندیتوب وزارت سکرتریت ته له *ماشوم سره د کار کولو د 2005 کال د قانون* په اساس، له ماشوم سره د کار کولو  د ارزونې په موخه د راپور وړ چلند د ارتکاب په هکله خبر ورکوي.
- په ځانګړو شرایطو کې، (د ویکتوریا د حکومتي نهادونو او د آسترالیا د روغتیایي چارو د اجنسیو په څېر) نورو قانوني مراجعو ته د راپور وړ ترسره شوي چلند په اړه خبر ورکوي او نور اړوند معلومات ورته چمتو کوي.
- د ادعا د مطرح کېدو په صورت کې او که چېرې د راپور وړ چلند د پلټونو پایلې د یوه ثبت شوي ښوونکي په هکله وي، د ویکتوریا د تکنالوژۍ انستیتیوت (VIT) ته خبر ورکوي.

## د راپور وړ تور څه ته وايي؟

د راپور وړ تور د داسې معلوماتو په اساس ترسره شوې ادعا ده چې په شخص کې د معقول باور د رامنځ ته کېدو سبب ګرځي چې کارمند یا داوطلب یې مرتکب ګرځېدلی وي.

- د راپور وړ چلند، یا
- ناسم چلند چې کېدی شي د راپور وړ چلند پکې شامل وي.

یو معقول باور له شک څخه ډېر څه دی. د باور لپاره د عیني اساس اړتیا ده. ثبوت ته اړتیا نلري اما باید له ګنګوسې یا قیاس څخه لوړ وي.

COMMISSION FOR CHILDREN AND YOUNG PEOPLE

⚠ د سازمانونو مشران باید د هر ډول راپور ورکولو په اړه کمیسیون ته خبر ورکړي حتی که دوی باور هم نه ورباندې لري.

**کله چې د راپور ورکولو تور پورې کېږي څه پېښیږي؟**

که چېرې د کوم سازمان مشر د خپل کوم کارمند یا داوطلب پر وړاندې د راپور ورکولو تور په هکله خبرېږي، هغوی باید:

1. کمیسیون او د ویکټوریا پولیسو ته او همدارنګه په ځینو مواردو کې د ماشومانو د خوندیتوب اداري ته د شکمن جرمي چلند په هکله خبر ورکړي.
2. ډاډ حاصل کړي چې ( د اړتیا په صورت کې د ویکټوریا د پولیسو له خوا د تصفیې له ترلاسه کولو وروسته ) د ادعا په هکله پلټنه ترسره کېږي.
3. د هغو پلټنو په اساس پایلې ترلاسه کړي او اقدام ترسره کړي.
4. موندنې له کمېسیون سره شریکې کړي.

## د راپور ورکولو ادعاوو پروسه

د راپور ورکولو ادعاوو په پلټنه کې باید لاندې ګامونه ترسره شي:

- د ادعاوو ترلاسه کول او ارزول
- د پلټنې رامنځ ته کول او ترسره کول
- د شواهدو څېړل
- د پلټنو نهایي کول او د راپور چمتو کول
- پایلې ترلاسه کول
- د پایلو مطابق اقدام ترسره کول

## د پلټنې ترسره کول:

د راپور ورکولو ادعا لپاره پلټنه د لاندې مراجعو له خوا ترسره کېږي:

- د داخلي کارمندانو غړی ( د بېلګې په توګه، د بشري منابعو له خوا)
- د خپلواک بهرني پلټونکي له خوا
- د تنظیمونکي له خوا
- د کمیسیون له خوا

د راپور ورکولو ادعا په پلټنه کې معمولاً لاندې موارد شامل دي:

- د اړونده فزیکي شواهدو راټولول
- له اړونده شاهدانو سره مرکې ترسره کول، چې کېدی شي ماشومان هم پکې شامل وي
- له تورن کس سره مرکه ترسره کول.

## آیا تاسو تورن کس یاست؟

که تاسو د راپور ورکولو ادعا لپاره تورن شئ لاندې برخې به تاسو ته لارښوونې چمتو کوي

## اجراآتي عدالت

د دغې طرحې یو له مهمو اصولو څخه دا دی چې که چېرې په تاسو باندې د راپور ورکولو ادعا تور لګېدلی وي، تاسو د دې مستحق ګڼل کېږئ چې په پلټنه کې له تاسو سره طبیعي چلند وشي. طبیعي چلند ته ډېر کله اجراآتي عدالت هم ویل کېږي.

دا مهمه ده چې د راپور ورکولو پروسه په معقول او عادلانه توګه او له ځنډ پرته ترسره شي.

اجراآتي عدالت دې ته اړتیا نه لري چې تاسو په سملاسي توګه خبر شئ چې ستاسو پر وړاندې د راپور ورکولو تور لګېدلی دی.

پلټونکي باید تاسو ته د خبر درکولو لپاره تر ټولو مناسب او لومړنی فرصت په پام کې ونیسي، او په ورته مهال باید د پلټنې د بشپړتیا او د ټولو دخیلو اړخونو د خوندیتوب په اړه ډاډ حاصل کړي.

تاسو ته د راپور ورکولو ادعا په هکله د خبر په درکولو کې باید نامناسب ځنډ رامنځ ته نه شي.

په محدودو مواردو کې، د بېلګې په توګه، کله چې یوه ادعا په څرګند ډول غلطه وي او کېدی شي ستاسو له دخالت پرته ستاسو په ګټه پای ته ورسیږي، کېدی شي د دې ډول ادعا په هکله تاسو ته خبر درنکړل شي.

تاسو ته به د ادعا په هکله د ادعا د لیک له لارې خبر درکول کېږي. ادعالیک یو لیکلی سند دی چې تاسو ته په څرګند ډول ستاسو پر وړاندې د راپور ورکولو ادعا په هکله معلومات درکوي.

که چېرې تاسو ادعا لیک ترلاسه کوئ، په یاد لیک کې باید هره ادعا باید په څرګند ډول بیان شوې وي او باید ستاسو لپاره په کافي اندازه معلومات ولري ترڅو په دې پوه شئ چې یادې ادعاګانې د څه په هکله دي او په دې توګه وکولای شئ خپل ځوابونه وړاندې کړئ.

په ادعالیک کې کېدی شي لاندې موارد شامل وي:

- د څه ډول چلند په هکله ادعا ترسره شوې ده
- ادعا شوی چلند کله او چېرته ترسره شوی دی
- په ادعا شوي چلند کې څوک دخیل وو

**کله چې زما پر وړاندې د راپور ادعا ترسره کېږي، نو څه به پېښیږي؟**

دې ته په بېپامۍ سره چې تاسو ادعالیک ترلاسه کوئ یا د راپور ورکولو ادعا په هکله له بلې لارې خبر ترلاسه کوئ، تاسو معمولاً باید تمه ولرئ چې:

- تاسو ته د ادعا په هکله تشریح وشي
- په کافي اندازه وخت ولرئ چې د ادعا په هکله فکر وکړئ ترڅو تاسو وکولای شئ د هغو خلکو په هکله وړاندیز وکړئ چې تاسو فکر کوئ د دې ادعا د برخې په توګه باید مرکه ورسره وشي.
- تاسو وکولای شئ وغواړئ چې که چېرې له تاسو سره مرکه کېږي نو یو مناسب کمک کوونکی کس حاضر دی.
- د راپور ورکولو ادعا لپاره دعوت شئ ترڅو وکولای شئ په شفاهي یا لیکلي ډول د تاسو پر وړاندې د لګېدلي تور، او نامطلبو معتبره او اړونده معلوماتو لپاره ځوابونه وړاندې کړئ.
- یو بېطرفه پلټونکی/تحقیق کوونکی ولرئ.

تاسو ښايي د دې حق ولرئ چې د وکیل، اتحادیې یا بل استازي نهاد له خوا د تحقیق د برخې په تړاو مشوره ترلاسه کړئ.

⚠ په لیکلي ډول د خپل برداشت او/یا په مرکه کې ګډون تاسو ته وړتیا درکوي چې ستاسو پر وړاندې د ترسره شوو ادعاوو لپاره ځوابونه وړاندې کړئ. تاسو کولای شئ مخکې له دې چې خپل برداشت وړاندې کړئ مشوره ترلاسه کړئ څکه چې کېدای شي د ادعا د اثبات په صورت کې جدي پایلې ولري.

**توقف، تعليق او نور اقدامات**

ځيني سازمانونه شايي دا په پام کې ونيسي چې د تحقيق پر مهال تاسو ودروي يا مو په تعليق کې واچوي. ستاسو د سازمان مشر ببلابېل موضوعات په پام کې نيسي، لکه د پرېکړې پر مهال په سازمان کې د ماشومانو او نورو خلکو په خطر کې لوېدل.

سازمانونه همدارنګه بايد لاندې اجراآت وکړي:

- تاسو بايد له ماشومانو سره له تماس څخه منعه کړي.
- تاسو د بل کار لپاره وګوماري
- ډاډ حاصل کړي چې تاسو په کار کې اضافي ملاتړ لرئ او کار مو څارل کېږي.
- لارښوونه درته وکړي چې د ستونزې په هکله له نورو کارمندانو او داوطلبانو سره بحث ونکړئ.
- له تاسو غوښتنه وکړئ چې وسايل ورته وسپارئ يا اسندو ته لاسرسی بند کړئ.

هره سازمان به د دغو اقداماتو په هکله متفاوت قوانين او پاليسۍ تطبيقوي. که ډېرو معلوماتو ته اړتيا لرئ، نو له خپل سازمان څخه يې غوښتنه وکړئ.

## د شواهدو ارزول

### د احتمالاتو انډول – د ثبوت کچه

د راپور وړ ادعا لپاره د ثبوت د موندلو په موخه د ډاډ او شواهدو اړينې کچې ته د احتمالاتو انډول ويل کېږي. دا د جرمي موارداو په پرتله يو ټيټ معيار دی چې تور بايد پکې له معقول شک پرته ثابت شي. نو په دې توګه، د تحقيق د ترسره کولو پر مهال، تحقيق کوونکی فکر کوي چې آيا د راپور وړ چلند د واقع کېدو **احتمال شته کنه**.

## د تحقيق نهايي کول

### ستاسو لپاره د ځواب ويلو فرصت

مخکې له دې نامطلوبې پايلې ترلاسه شي يا ستاسو پر وړاندې انظباطي اقدام ترسره شي، سازمان بايد ډاډ ترلاسه کړي چې تاسو ته د دې فرصت درکول کېږي ترڅو د ادعا پر وړاندې تبصره وکړئ يا خپل ځواب وړاندې کړئ. د ياد ځواب په بايد مخکې له دې چې تحقيق پای ته ورسېږي په ژوره توګه فکر وشي.

### کمېسيون ته خبرتيا

وروسته له دې چې ستاسو ځواب په پام کې ونيول شي، سازمان به د خپل تحقيق پايلې (او د پايلو لپاره دلايل) چمتو کوي. يادې موندنې او دلايل به کمېسيون ته ورکول کېږي.

تاسو ته به همدارنګه د وروستۍ پايلې په هکله خبر درکول کېږي، په ځانګړې توګه که ياده پايله ستاسو د تمې خلاف وي. په هر صورت، تاسو ممکن همېشه د تحقيق د پايلو تفصيلي موندنې، راپور او دلايل ترلاسه نکړئ. دا کېدی شي له دې امله وي چې په يادو موندنو کې د ماشومانو په هکله حساس يا شخصي معلومات شامل وي.

### احتمالي پايلې او اقدام

د تحقيق په پای کې د ډېرو احتمالي پايلو د موندنې امکان شته. په دې هکله د زياتو معلوماتو لپاره د کمېسيون 8 شمېرې معلوماتي پاڼې ته مراجعه وکړئ – د تفصيلي معلوماتو لپاره د تحقيق موندنې.

په لنډه توګه که چېرې:

- شواهدو وښيي چې د راپور وړ چلند احتمال تر عدم احتمال ډېر دی، په دې صورت کې **د اثبات وړ** موندنې بايد ترلاسه شي.
- که چېرې کافي شواهد شتون ونلري چې وښيي د راپور وړ چلند احتمال تر عدم احتمال ډېر دی، نو په دې صورت کې **د بې اساسه – غيرکافي شواهدو** موندنې بايد ترلاسه شي.
- که چېرې کافي شواهد شتون ونلري چې ايا د راپور وړ چلند ترسره شوی که نه دی ترسره شوی، په دې صورت کې د **بې اساسه – عدم شواهدو** په اساس موندنې بايد ترلاسه شي.
- که چېرې قوي شواهد شتون ولري چې د راپور وړ چلند نه دی ترسره شوی، په دې صورت کې کېدی شي **بې اساسه** موندنې ترلاسه شي.
- که چلند ترسره شوی وي اما د راپور وړ چلند له پورته ذکر شوو ډولونوسره مطابقت ونلري، نو په دې صورت کې **له طرحې د باندې د چلند** موندنه شايي ترلاسه شي.

سازمان شايي د دغو موندنو په اساس يو لړ اقدامات ترسره کړي.

### له پايلې او اقدام سره عدم توافق

که تاسو د سازمان له موندنو يا اقدام سره توافق نه لرئ، تاس بايد دخپل سازمان د داخلي شخړو د حل طرزالعمل ته مراجعه وکړئ.

تاسو همدارنګه بايد له لاندې مراجعو څخه د مشورې، ملاتړ يا لارښوونو ترلاسه کول په پام کې ونيسئ:

- خپله سوداګريزه اتحاديه: آسټراليايي اتحادي ته په 1300 486 466 يا د ويکتوريا د سوداګرۍ سالون شورا ته په (03) 9659 3511 د زنګ وهلو له لارې.
- له يوه وکيل سره د لاندې مراجعو له لارې په اړيکه کې شئ:
  - د ويکتوريا د قانون انستيتيوټ، چې کولای شي تاسو ته وکيل راجعه کړي.
  - د دندې او کارمندنې د حقونو د څارنې مرکز سره په 1800 331 617 (ويکتوريا هېواد) يا (03) 9662 1933 ( مېلبورن مېټرو) سره په اړيکه کې شئ چې د کارمندانو لپاره وړيا او محرم تلفوني او د ارجاع خدمات وړاندې کوي.
  - د ټولنې د حقوقي مرکزونو فدراسيون، چې له تاسو سره به د ټولنې د حقوقي مرکز په پيدا کولو کې مرسته وکړي.
- د منصفانه کار استازی، چې تاس ته به د کاري د ساحې د حقون او مسئوليتونو په هکله معلومات او مشورې درکوي.
- د منصفانه کار کمېسيون، د هغو کارمندانو لپاره مرستې چمتو کوي چې له کاره ايستل شوي دي او د هغوی ايستنه غير عادلانه، له دندې څخه د عامو ايستنه کولو، يا د غير قانوني ايستنه کولو په توګه ګڼل شوې وي.

### د ماشومانو د چک کولو او د ويکتوريا د تدريس او ارجاع له انستيتيوټ سره کار کول

سريېره پر هغه اقدام باندې چې ستاسو سازمان يې ترسره کوي، که ثابته شي چې تاسو د راپور وړ چلند ترسره کړی دی، کمېسيون شايي په ځانګړو حالاتو کې دا چلند له ماشومانو سره د کار کولو د نظارت له ويکتوريا ته د ارزونې په موخه راجع کړي. حتی که له ماشومانو سره د کار کولو د چک کېدو کارت هم ونلرئ، ارجاع به ترسره کېږي . که تاسو يو ثبت شوی ښوونکی ياستئ، VIT ته د راپور وړ د ډولو ادعاګانو د موندنو په هکله خبر ورکول کېږي.

⚠ کمېسیون باید د ثبت شوي ښوونکي په هکله د راپور وړ ادعاوو د ترلاسه کولو په مهال VIT ته مشورې ورکړي.

## د کارمندانو او داوطلبانو له خوا راپور

که تاسو داسې باور ولرئ چې په سازمان کې کوم چا د راپور وړ چلند ترسره کړی وي یا یا داسې نامناسب چلند ترسره کړی وي چې د راپور وړ چلند پکې شامل وي، تاسو باید د خپل سازمان مشر یا کمیسیون ته خبر ورکړئ. کمیسون ته راپور ورکول ستاسو د راپور ورکولو اوسنې مسئولیتونه نه بدلوي.

د بېلګې په توګه تاسو لا هم باید:

- د ماشومانو دخوندیتوب څانګې ته خبر ورکړئ که چېرې تاسو داسې مناسب باور لرئ چې کوم ماشوم له فزیکي زیان یا جنسي ځورونې څخه خوندیتوب ته اړتیا لري.
- د جرم د ارتکاب په صورت کې د ویکتوریا پولیسو ته راپور ورکړئ
- د جنسي ځورونې د خطر د کمولو لپاره ټول مناسب ګامونه پورته کړئ، په ځانګړې توګه که چېرې تاسو د صلاحیت مقام لرئ.

**یادونه:** یاده طرحه ټولو هغو کسانو ته قانوني خوندیتوب ورکوي چې د ښه نیت له مخې کمیسیون ته د راپور وړ ادعاګانې وړاندې کوي.

## اضافي معلومات

### د ماشومانو او ځوانو خلکو لپاره کمیسیون

د طرحې او د ماشومانو د خوندیتوب د معیارونو په اړه د اضافي معلوماتو لپاره، تاسو کولای شئ وېب پاڼې، برېښنالیک یا تلفون ته لاسرسی ولرئ. تفصیلات په لاندې ډول دي:

وېب پاڼه: ccyp.vic.gov.au
برېښنالیک: contact@ccyp.vic.gov.au
تلفون: 5281 8601 (03)

که تاسو ترجمان ته اړتیا لرئ، نو مهرباني وکړئ د ژباړې او ترجمې خدماتو ته په 50 14 13 شمېره زنګ ووهئ او له هغوی څخه وغواړئ چې د ماشومانو او ځوانو خلکو لپاره له کمیسیون سره په 5281 8601 (03) شمېره زنګ ووهئ.